# د افغــــانستان اســـــلامي امــــارت

## د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت

## د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**١٦/ رمضان المبارک/١۴۴۴ هـ ق موافق د ١٨/ حمل /١۴٠٢هـ ش**

# د روژې د اخيرې عَشرِې فضيلتونه او پکې د اِعتکاف احکام

الحمد لله الذي جعل شهر رمضان سيد الشهور وضاعف فيه الحسنات والأجور أحمده وأشكره إنه غفور شكور وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له شهادة أرجو بها الفوز بدار القرار والسرور وأشهد أن نبينا محمدا عبده ورسوله أشرف آمر ومأمور صلى الله عليه وعلى آله وصحبه ومن اقتفى أثرهم إلى يوم النشور أما بعد. فقد قال الله سبحانه وتعالى في محكم كتابه :{إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ۰ وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ۰ لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ۰ تَنَزَّلُ الْمَلائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ۰ سَلامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ }القدر:(٥)

**لومړۍ برخه:- د روژې د اخيري لسو ورځو فضيلت.**

**ګرانو هيوادوالو!**

د روژې مبارکې مياشت راتللو ته سترګې په لار ۆ او په راتلو يې مونږ خوشحالي کوله د روژې مياشت راغله او دادی اوس په تيريدو ده . د روژو په تيرو شوو ورځو کې خلک په دوه ډوله دي، يو ډول هغه خلک دي چې د روژو په تيرو ورځو کې يې لويه ګټه کړی ده ، ددې مياشتې تيری شوو ورځو کې يې روژې نيولی او دشپې يې تراويح کړی دي، دقرآن کريم يې تلاوت کړی، صدقات يې ورکړي دي او د ګناهونو څخه يې ځانونه ژغورلي دي او په راتلونکو شپو او ورځو کې به هم خپلو نيکو اعمالو ته ادامه ورکوي چې همدوی کامياب خلک دي.

دوهم ډول هغه خلک دي چې د روژو د برکتي ورځو څخه يې سمه ګټه پورته نه کړه، روژې يې ونيولی؛ خو د تراويح لمونځ يې په کې ونکړ، شپې يې په لهو ولعب سره په ويښه تيری کړی ، خپل مالونه يې د الله په لاره کې ور نه کړل، دقرآن کريم تلاوت يې ونه کړ او په نتيجه کې دددې مياشتې دعظيمو برکتونو څخه بې برخې شول، البته د لومړۍ ډلی خلکو دنيکيو ددوام لپاره او ددوهمې ډلې لپاره د اخيري فرصت په توګه ددې مياشتې اخيري لس ورځې پاتې دي چې بايد عظيمه ګټه ورڅخه پورته کړي.

د روژې اخيري لس ورځې زيات فضيلتونه لري چې د ځينو يې په لاندې توګه يادونه کوو.

- **د قرآن کريم نزول:**

په دې لسو ورځو او شپو کې يوه داسې مبارکه شپه ده چې په دې شپه کې قرآن کريم د لوح محفوظ څخه اسمان دنيا ته نازل شوی الله جل جلاله فرمايلي دي:إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنْذِرِينَ} الدخان:(٣)

ترجمه:- مونږ دا قرآن کريم نازل کړی په مبارکه شپه کې، بيشکه مونږ ويره ورکونکي يو.

د سورت قدر په لومړي آيت کې راځي:{إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ} القدر:(١)

ترجمه:- مونږ قرآن کريم د قدر په شپه کې نازل کړی دی.

وعَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الأَسْقَعِ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: ( نَزَلَتْ صُحُفُ إِبْرَاهِيمَ فِي أَوَّلِ لَيْلَةٍ مِن رَمَضَانَ ، وَأُنزِلَت التَّوْرَاةُ لِسِتٍ مَضَيْنَ مِن رَمَضَانَ وَأُنزِلَ الزَّبُورُ لاثْنَتَي عَشْرَةَ مَضَتْ مِن رَمَضَانَ ، وَأُنزِلَ الإِنْجِيلُ لِثَمَانِيَ عَشْرَةَ خَلَتْ مِن رَمَضَانَ . وَأُنزِلَ الْقُرآنُ لأَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ مِن رَمَضَانَ ) فضائل القرآن للقاسم بن سلام (٢/ ٢٣٥) ورواه الطبرى موقوفا

ژباړه:- واثله ابن اسقع رضي الله عنه درسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کړی دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: دابراهيم عليه السلام صحيفې د رمضان په لومړۍ شپه نازل شوي دي او تورات د رمضان په شپږم تاريخ نازل شوی دی، زبور د رمضان په دولسم تاريخ نازل شوی دی، انجيل د رمضان په اتلسم تاريخ نازل شوی دی او قرآن کريم د روژې په څلورويشتم تاريخ نازل شوی دی.

پورتني آيتونه او د رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث ددې لپاره غوره دليل دی چې الله تعالى قرآن کريم دبشريت لارښود کتاب د روژې په اخيري لسو ورځو کې نازل کړی دی او په نورو پيغمبرانو باندې هم اسماني کتابونه او صحيفې په دې مبارکه مياشت کې نازل شوي دي.

### ➢ د ليلة القدر شپه:

د روژې د مياشتې داخيري لسو ورځو دفضائلو څخه بل فضيلت دا دی چې الله تعالى په دې لسو شپو او ورځو کې داسې شپه پيدا کړی ده چې په دغه شپه کې عبادت د درى اتيا کلونو له عبادت څخه غوره دی چې دا ډير لوی فضيلت دی.

الله جل جلاله فرمايلي دي:{ إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ* وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ* لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ* تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ *سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ }القدر:(١- ٥)

ترجمه:- مونږ دا نازل کړ په شپه دقدر کې او ته څه پوهه شوی چې څه ده شپه دقدر، شپه دقدر ښه ده تر زرو مياشتو(١٠٠٠) څخه، نازليږي ملائکې او روح( جبريل) په دې کې د خپل رب په حکم سره ، (دغه شپه ) سلامتيا ده دغه (شپه) تر سبا ختلو پورې ده .

يعنى دملائکو سره د هغه کارونو فيصلى په لاس کې وي چې په راتلونکي کال کې کيدونکي دي. د همدې وجې نه ځينې علماء وايي چې (قدر) د حکم او تقديرپه معنا ده يعنى د حکم او تقدير شپه. لکه څرنگه چې د الدخان په سورت کې راځي:{ فِيها يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ} الدخان: (٤)

په دغه شپه کې فيصله کيږي دهغه کارونو چې په راتلونکي کال کې پيښيدونکي وي لکه رزقونه او اجلونه .تفسير الماوردى - النکت والعيون (٥/ ٢٤٥)

### ليلة القدر شپه زيات فضيلتونه لري:

**لومړی**:- په دې شپه کې قرآن کريم نازل شوی دی.

**دوهم**:- د ليلة القدر په شپه کې د راتلونکي کال فيصلې ملائلکو ته ورکول کيږي کوم چې په لوح محفوظ کې ليکل شوی وي.

**دريم**:- دا مبارکه شپه ده. ﴿ إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ ﴾.

**څلورم**:- ليلة القدر شپه دزرو مياشتونه چې تقريبا ٨٣کلونه کيږي غوره او بهتره ده.

**پنځم**:- د ليلة القدر په شپه کې زمکې ته ملائکې دجبرائيل عليه السلام سره يوځای د خير او برکت لپاره راښکته کيږي.

**شپږم**:- د ليلة القدر په شپه کې عبادت کوونکی د هر ډول عذاب څخه په امن کې وي.(سلام هى حتى مطلع الفجر)

**اووم**:- چاچې د ليلة القدر شپه کې دايمان او ثواب په نيت سره عبادت وکړ، تير گناهونه به يې وبښل شي.

**اتم**:- چاچې د ليلة القدر په شپه کې عبادت وکړ په حقيقت کې خير ورته ورسيده او څوک چې په دې شپه کې د عبادت څخه محروم شو ، دخير څخه محروم شو، لکه څرنگه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا حَضَرَ رَمَضَانُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ جَاءَكُمْ رَمَضَانُ شَهْرٌ مُبَارَكٌ افْتَرَضَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ صِيَامَهُ تُفْتَحُ فِيهِ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ وَتُغْلَقُ فِيهِ أَبْوَابُ الْجَحِيمِ وَتُغَلُّ فِيهِ الشَّيَاطِينُ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ مَنْ حُرِمَ خَيْرَهَا فَقَدْ حُرِمَ) مسند أحمد - الرسالة (١٥/ ٣٠٢)

ژباړه:- ابوهریره رضي الله عنه فرمايي کله بـه چـې رمضان مياشـت راغلـه پيغمبرعليـه السلام بـه وفرمايـل: بيشـکه د رمضـان مياشت تاسو ته راغله ، دا یوه مبارکه مياشت ده ، الله تعالی ددې مياشتې روژې پرتاسو فرض کـړی دي، پـه دې مياشـت کـې د جنت دروازې خلاصيږي او دجهنم دروازې بنديږي او پـه دې مياشـت کـې شيطانان تـړل کيـږي. پـه دې مياشـت کـې يـوه داسې شپه ده چې د زرو شپو څخه بهتره ده، څوک چې ددې شپې له خير څخه محروم شو، هغه دخير څخه محروم شو.

د ليلة القدر د شپې فضيلت په حقيقت کې دددې مياشت داخيري لسو ورځـو فضـيلت دی؛ ځکـه ليلـة القـدر شـپه پـه همـدې اخيري لسو شپو کې يوه شپه ده.

د حضرت عائشې رضي اللـه عنهـا څخـه روايـت دی چـې د ليلـة القـدر شـپه د روژې پـه اخـيري لسـو ورځـو کـې وپلټـئ ، پيغمبرعليه الصلاة والسلام هم خلک ددې ورځې لټولو ته هڅولي دي.(عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- يُجَاوِرُ فِي الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ وَيَقُولُ تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ) البخاری

ژباړه:- عائشه رضي الله عنها فرمايي: پيغمبرعليه السلام به په رمضان المبارک کې په مسجد کې اعتکاف کولـو او ويـل بـه يـې: ولټوئ د ليلة القدر شپه د روژې په اخيري لسو ورځو کې .

ددې حديث په اساس ويلی شو چې د ليلة القدر شپه د روژې په اخيري لسو ورځو کې راځـي؛ خـو پـه يقينـي توګـه هغـه شـپه معلومه نه ده البته په رواياتو کې راځي چې د روژې مياشتې په اخيري لسو طاقو شپو کې ده.

په يو روايت کې داسې راځي: (فَالْتَمِسُوهَا فِي العَشْرِ الأَوَاخِرِ، وَالتَمِسُوهَا فِي كُلِّ وِتْرٍ) صحيح البخاري (٣/ ٤٨)

ژباړه:- ولټوئ د قدر شپه د روژې په اخيري لسو کې او وه يي لټوئ په طاق شپو کې.

**د قدر شپې ځانګړې دعا:**

(عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ إِنْ عَلِمْتُ أَيُّ لَيْلَةٍ لَيْلَةُ القَدْرِ مَا أَقُولُ فِيهَا؟ قَالَ: " قُولِي: اللَّهُمَّ إِنَّكَ عُفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي) سنن الترمذي ت شاکر

ترجمه:- له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې ما پيغمبرعليه السلام ته عرض وکړ. ای د اللـه جـل جلالـه رسـوله! کـه چيری را معلومه شي چې دا دقدر شپه ده نو درب العالمين په دربار کی څه و وايم او کومه دعا وکړم؟

حضور صلی الله عليه وسلم و فرمايل: دا دعا ووايه: ( اللهم انک عفو کريم تحب العفو فاعف عني) ، يا اللـه پـه رښـتيا چـې تـه ښښونکی کريم ذات يی او عفو خوښوی نو زما خطاګانې و ښښه.

په همدی خاطر د الله د ډيرو نيکو بندګانو عادت دادی چې هره شپه دغه دعا وايـي او د رمضـان مبـارکې مياشـتې پـه شـپو کـې خصوصاً د وروستی لسيزې په طاق شپو کې زياته توجه او اهتمام ورته کوي نو راشئ چې مونږ هم دغه دعا هيره نکړو.

➢ **والفجر وليال عشر:** (الله تعالی د روژې په لسو ورځو قسم ياد کړی دی):

کله چې الله جل جلاله په مخلوق قسم ياد کړي ؛ په دې کې دمقسم عظمت او فضيلت ته اشاره وي.

الله جل جلاله فرمايلي دي: {وَالْفَجْرِ ۝ وَلَيَالٍ عَشْرٍ} الفجر: (١-٢)

د ځينو مفسرينو په وينا په سورت الفجر کې د ( وليال عشر) څخه مراد د روژې اخيري لس ورځې دي.

چې ددې څخه د دروژو داخيري لسو ورځو فضيلت معلوميږي.

امام قرطبي فرمايي: ( وعن ابن عباس أيضا : هي العشر الأواخر من رمضان ؛ وقاله الضحاك) الجامع لأحكام القرآن

ژباړه: د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې د( وليـال عشـر) د ددې لسـو ورځـو څخـه د روژې اخـيري لـس ورځې مراد دي او همدا دامام ضحاک قول هم دی.

➢ **د عملونو د ثواب زياتوالی:**

د روژو په اخيري لسو ورځو کې د مؤمن دنيکو عملونو اجر د کال دنورو ورځـو پـه نسـبت زيـات دی او دقبليـدو اميـد هـم زيـات وي. همدا وجه ده چې کله به د روژو اخيري لس ورځې داخلی شوی ، پيغمبرعليه السلام به خپله ملا عبادت ته وتړله او د

دې ورځو په عبادت کې به يي دومره کوښښ کولو چې په نورو ورځو کې بـه يـي هغـومره نـه کولـو. لـه عائشـې رضي الله عنهـا څخه روايت دی هغه فرمايي: (عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ شَدَّ مِئْزَرَهُ وَأَحْيَا لَيْلَهُ وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ) صحيح البخاري-نسخة طوق النجاة

ژباړه:- دنبی کريم صلی الله عليه وسلم عـادت مبارکـه بـه دا و چـې کلـه بـه آخـری عشـره را داخلـه(يعنی شروع شـوه نـو خپـل تهبند(ازار)به يې مضبوط او تړل ،ټوله شپه به يې په عبادت کې تيروله او خپل کورواله (بيبياني او نور متعلقين بـه يـې هـم را ويخول)ددې دپاره چې دوی هم ددې برکتي شپو سعادت حاصل کړي. تشريح: شد مئزره:خپل تهبند(ازار) به يـې مضـبوط او تړل.دا کنايه ده ددينه چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم به دخپل عادت او معمول نه زيات په عبادت کـې کوشـش کولو.يـا دا کنايه ده چې ددينه چې پيغمبر عليه السلام به په آخري عشره کـې د خپلـو بيبيـانو نـه جدا اوسيدلو پـه مـونځ،ذکر او قـرآن کريم په تلاوت کې به مشغول و.

په يو بل روايت کې حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي: (كَانَ رسولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - يَجْتَهِـدُ في رَمَضَـانَ مَـا لاَ يَجْتَهِدُ في غَيْرِهِ ، وَفِي العَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْهُ مَا لا يَجْتَهِدُ في غَيْرِهِ) رواه مسلم .

ژباړه:- پيغمبرعليه السلام به په رمضان مياشت کې په عبادت کې دومره زيات کوښـښ کـاوه چـې پـه بلـه مياشت کـې بـه يـې هغومره نه کولو او د رمضان په اخيري لسو ورځو کې به يې دومره زيات کوښښ کولو چې په نورو ورځو کې به يې هغومره نه کاوه.

بناءً مونږ لره په کاردي چې دغنيمت په دې شپو کې د خپل پيغمبرصلی الله عليه وسلم پيروي وکړو، پـه دې شـپو او ورځـو کـې زيات کوښښ وکړو، زيات عبادت وکړو؛ ترڅو زيات اجرونه مو په برخه شي، ځکه دا هغه شپې دي چـې د نيکـو عملونـو بـدل په څو چنده ورکول کيږي.
همدا راز مؤمنانو ته په کاردي چې دخپل پيغمبرصلی الله عليه وسلم څخه پيروي وکړي خپله هم د شپې عبـادت تـه مـلا وتـړي او دکور خلکو سره هم مرسته وکړي او هغوی هم عبادت ته راپاڅوي؛لکه څرنګه رسول اللـه صـلی اللـه عليـه وسـلم خپـل اهـل عبادت ته راويښه ول.

### ➢ د رمضان په وروستی لسيزه کې سخاوت کارونو ترسره کول:

مؤمنانو لره ښايي چې په دې ورځو او شپو کې دپيغمبرعليه السلام پيـروي وکـړي او داللـه تعـالی پـه لاره کـې خپـل مـال څخـه خيرات ورکړي او د هغه مال څخه چې الله تعالی دوی ته ورکړی دی اولادونو، ګاونډيانو، يتيمانو، کونډو، فقيرانـو او مسـيکنانو ته يي هم ورکړي.
په دې کې شک نشته چې په رمضان کې صدقه ورکول د کـال د نـورو مياشـتو پـه نسبت زيات ثـواب لـري ، بيـا د رمضـان پـه اخيري لسو ورځو کې صدقه ورکول د رمضان دنورو ورځو په نسبت زيات ثواب لري ؛ ځکه اللـه تعـالی ځينـو ورځـو تـه پـه ځينـو نورو فضيلت ورکړی دی په ځانګړی توګه په هغه شپو کې صدقه ورکول چې په هغې کې د ليلة القدر دلحظـاتو اميـد زيـات وي، لکه څرنګه چې يي ځينې ځايونو ته په ځينو نورو فضيلت ورکړی دی.
د رمضان په وروستی لسيزه کی اعتکاف کول دا هم د آخری لسو ورځو فضيلت دی.
که څه هم د پيغمبرعليه السلام د امت عمرونه او عملونه کم دی ، خو له بلی خوا الله جـل جلالـه پـه دې امت بانـدې مهربـاني کړی ده او د دې امت د عملونو د زياتوالي لپاره يي روژه راليږلې ده ، هغـه مياشـت چـې لـږ عمـل پـه کـې لـوی ثوابونـه لـري او همدا راز په دې مياشت کې يې داسې عملونه را ښودلي دي چـې پـه کولـو سره يـې د مسلمان ټـول ګناهونـه ښـل کيـږي او د زياتو اجرونو مستحق ګرځي او هم يي داسې وختونه را ښودلي دي چې په دغو وختونو کې عبادت کـول د زيـاتو اجرونـو لامـل ګرځي چې دهغه عملونو او وختونو څخه يو هم د رمضان د مياشت په لسو وروستيو ورځو کې اعتکاف دي.

پيغمبرعليه السلام فرمايلي دي: (إِنِّي اعْتَكَفْتُ الْعَشْرَ الْأَوَّلَ أَلْتَمِسُ هَذِهِ اللَّيْلَةَ ثُمَّ اعْتَكَفْتُ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ ثُمَّ أُتِيتُ فَقِيلَ لِي إِنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ فَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يَعْتَكِفَ فَلْيَعْتَكِفْ) مختصر صحيح مسلم للمنذري

ژباړه:- ما د رمضان په لومړۍ لسيزه کې اعتکاف وکړ او دليلة القدر شپه مې لټوله ، بيامې د رمضان په دوهمه لسيزه کې اعتکاف وکړ( ترڅو دليلة القدر شپې فضيلت راته حاصل شي )بيا راته وويل شو چې ليلة القدر شپه د رمضان په آخري لسو ورځو کې ده . څوک چې ستاسو څخه غوره ګڼي چې د رمضان په آخري لسو ورځو کې اعتکاف وکړي نو معتکف دې شي. يعني که څوک غواړي چې دليلة القدر شپې فضيلت حاصل کړي په رمضان آخري لسو ورځو کې دې اعتکاف وکړي.

احاديث:- عن ابن عمر رضي الله عنهما قال: (كان رسول الله يعتكف العشر الأواخر من رمضان) صحيح البخارى

ترجمه:- د ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې هغه وفرمايل: رسول الله صلى الله عليه وسلم د رمضان په وروستی لسيزه کې اعتکاف کاوه.

- په بل حديث شريف کې راځي: و عن عائشة رضي الله عنها أن النبي صلى الله عليه وسلم يعتكف العشر الأواخر من رمضان حتى توفاه الله تعالى ثم اعتكف أزواجه بعده).صحيح البخاري

ترجمه:- د عائشه رضي الله عنها نه روايت شوی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم د رمضان په وروستی لسيزه کې اعتکاف کاوه ترهغې پورې چې وفات شو بيا د هغه د وفات نه وروسته دپيغمبرعليه السلام بيبيانو اعتکاف کاوه.

- په يو بل روايت کې د پيغمبرعليه السلام داعتکاف په اړه داسې راغلي دي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: كان النبي صلى الله عليه وسلم يعتكف في كل رمضان عشرة أيام فلما كان العام الذي قبض فيه اعتكف عشرين يو ماً)صحيح البخاري

ترجمه:- د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي: رسول الله -صلى الله عليه وسلم- به هر رمضان کې لس ورځې اعتکاف کاوه او کوم کال کې چې وفات کيده شل ورځې اعتکاف يې وکړ.

**دوهمه برخه داعتکاف احکام:**

اعتکاف سنة مؤکده على الكفايه په هغه مسجدکی چي پنځه وخته جماعت اداکيږی.

**د اعتکاف شرطونه:**

**د اعتکاف شرطونو په لاندې ډول دي:**

مسلمان به وي، عقلمند به وي بالغ کېدل شرط نه دی خلاص به وي د حيض او نفاس او جنابت څخه، نيت به يې د اعتکاف وي، په داسي مسجد کي به وي چي هلته پنځه وخته لمونځ سره د اذانه او اقامته په جماعت سره اداء کېږي، او د معتکف به روژه وي په

واجب او سنت اعتکاف کي.اجازت ده خاوند به وی خپلی ښځی ته.

**د اعتکاف قسمونه:**

**د اعتکاف درې قسمونه دي**، واجب، سنت، نفل:

۱- واجب اعتکاف هر هغه اعتکاف ته ويل کېږي چي يو کس په خپل قصد او اراده سره اعتکاف پر خپل ځان نذر او لازم کړي هغه نو که په يو شرط سره تړلی وي او که نه وي تړلی.

۲- سنت اعتکاف : د روژې د مياشتي په اخري لسو شپو کي کول دغه اعتکاف سنت
مؤکد على الكفاية دی.

۳- د دغه دو و قسمونو څخه ما سوا بل قسم ته اعتکاف مستحب و ائې لکه يو ساعت په مسجد کي د اعتکاف په نيت يو څوک کښيني) .۱ (د واجب او سنت اعتکاف لپاره روژه شرط ده

معتکف به سنت اعتکاف ته د روژې د مياشتي د شلمي ورځي د لمر لوېدلو مخکي مخکي داخلېږي.

همدارنګه معتکف به د روژې د شلمي ورځي د لمر لوېدلو مخکي مخکي نيت کوي، که يو څوک تر غروب د لمر وروسته اعتکاف ته داخل سويا يې نيت د لمر تر لوېدلو وروسته و کړی اعتکاف يې سنت نه دی بلکه مستحب دی.

## هغه شيان چي د اعتکاف کوونکي لپاره مستحب دي.

**١**- اعتکاف کوونکي ته مستحب دی چي د بې ځايه او بې هو ده خبر و څخه پرهېز وکړي او دخپل خولې نه فقط د خير خبري وباسي.

**٢**- همدا شان روژه نيوونکي لره مستحب دي چي اهتمام د اعتکاف د روژې د اخري لسو شپو وکړي او په داسي مسجد کي اعتکاف وکړي چي په هغه کي ثواب او اجر زيات وي لکه مسجد حرام يا مسجد نبوي يا عام جامع مسجد . **٣**- همدا شان مستحب دي د ده لپاره چي تلاوت د قرآن کريم ډېر وکړي مطالعه د حديثو د کتابونو وکړي او مذاکره د علم او درس او تدريس وکړي .**٤**- همدا رنګه مطالعه او کتنه د هغو کتابو او رسالو وکړي چي په هغو کي قصي او واقعاتي د انبياؤ او صحابه کرامو او نيکانو خلګو وي .**٥**- همدا رنګه ديني مسائل د علماء کرامو يا د معتمد و کتابونو څخه زده کړي .**٦**- همدا رنګه اهتمام د نوافلو وکړي لکه تحية المسجد، تحية الوضوء، د اشراق لمونځ د ځاښت لمونځ، د اوابين لمونځ، د صلوة التسبيح اداء کول په ټوله ورځ کي د خپل قدرت په اندازه سره که يې چيري شب قدر و لېدی نو دغه دعاء کول مستحب ده) : اللّٰهُمَّ إِنَّكَ عُفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي) رواه الترمذي

**٧**- مستحب دی د اعتکاف کوونکي لپاره ډېر درود ويل پر نبی کريم صلی الله عليه وسلم باندي.

**٨**- او په ويښو تېرول پنځه طاق شپې د شب قدر د شپو څخه .**٩**- او ډېري دعاوي کول د ځان لپاره او د مور او پلار لپاره د قريبانو دوستانو لپاره دټوله اهل اسلام لپاره خصوصا د اسلامي نظام د بقا او استحکام لپاره.

## هغه کارونه چي معتکف ته يې کول روا دي.

**١**- خوراک، چيښاک، خوب کول.**٢**- ډوډۍ خپله کوره څخه راوړل پسله غروبه د لمر په وخت د عذر کی .**٣**- را نيول او خرڅول د خپل اولاد د ضرورت لپاره بېله دې چي هغه سامان مسجد ته راوړه سي .**٤**- (نکاح، طلاق، او رجوع کول په ژبه سره........**٥**- خبري کول په قدر د ضرورت په دې شرط چي د ده خبري سبب د تکليف د بل معتکف و نه ګرځي .**٦**- د سر پرېولل په دې شرط چي سر به يې د مسجد څخه دباندي وي. **٧**- روا دي پرېولل د لاسو او د پښو او اودس په يو لوی لوښي کښي چي مسجد خراب او ککړ نه سي .**٨**-جامې بدلول، روغن استعمالول او خوشبوئي لګول.**٩** - ننوتل منارې اوحجرې ته د اذان لپاره او بل کار لپاره هم په دې شرط چي د مسجد په حد و دو کي به وي،او که حجره د مسجد د حدودو څخه د باندي وه نو بيا فقط د اذان لپاره ورتلای سي. **١٠**- وتل له مسجد څخه د طبعي ضرورت لپاره لکه بولي او قضاء حاجت او د جنابت د غسل لپاره. **١١**- او وتل د مسجد څخه د هوا د خارجولو لپاره .**١٢**- سګريټ او نسوار په مسجد کي کول ناروا دي او د دغو شيانو د استعمال لپاره د مسجد څخه و تل هم نه دي روا بلکه پرېښودل يې ضروري دی، او که يې ضرورت ډېر زيات ؤ د نسوارو نو چي کله بيت الخلاء ته انسان ځي په لاره کي بايد استعمال سي، يا په بيت الخلاء کي دننه استعمال سي، او بيا به بد بويې د خولې څخه پاکوي مسجد ته به راځي.**١٣**- د حاجت شرعي لپاره و تل روا دي لکه د جمعې لمونځ او داسي وخت به ځي لمانځه ته د جمعې چي هلته ورسي تحية الوضوء نفل اداء کړي سنت به اداء کړي اذان او خطبه به واوري او بيا به وروسته تر اداء کولو د فرضو او سنتونو د جمعې روان سي په اطمينان سره.**١٤**- که په ضرورت پسي را وتلی ؤ پر مريض يې پوښتنه وکړه يا يې د جنازې لمونځ اداء کړی روا دی ليکن خاص د دغه کار لپاره و تل نه دي روا.**١٥**- روادی اعتکاف کوونکي

لره ملاقات د خپلو محرماتو ښځو سره لکه مور خور خاله خوابنې په دې شرط چې هغوی په حجاب کې وي .۱۶- وېښته کوچني کول په خپله یا په بل سره بېله مزدورۍ په مسجد کې روا دي او که حجام ، نایي مزدوري غوښته معتکف به دننه وي او حجام به د مسجد څخه وتلی وي، ځکه کار په مزدورۍ په مسجد کې نه دی روا. ۱۷- د جامو پرېمینځل او ګنډل په مسجد کې روا دي په دې شرط چې مسجد ککړ نسي.

## هغه شیان چې اعتکاف کوونکي لره مکروه دي.

۱- د خپلې ښځې سره صحبت کول .۲- او لاس وروړل په خوند او شهوت سره .۳- او داسې خبرې کول چې د هغو څخه خوند او شهوت را پیدا سي دغه کارونه حرام دي.۴ - دیني یا دنیوي تعلیم ورکول په پیسو سره .۵- همېش خاموشي اختیار ول په دې نیت سره چې دغه خاموشي ثواب لري .٦- بد بویه اشیاء خوړل او د هغو استعمال دغه ټوله مکروه دي.

## هغه شیان چې اعتکاف فاسده وي.

۱- وتل د مسجد څخه بېله ضرورته شرعیة او طبعیة که دلږ وخت لپاره وي او که د ډېر وخت لپاره که په هېره سره وي او که په قصد سره وي که د خوشحالۍ لپاره او که د غم لپاره وي لیکن که یې اعتکاف فاسد سود عذرد و جې نو ګناه نسته پر معتکف باندې لکه د مریضۍ د وجې یا د مسجد د نړېد و خطره وه ، یا یو چا په زور سره و ابستی د مسجد څخه .۲- د مسجد څخه وتل د لاسو د پرېولو لپاره دا هم اعتکاف فاسده وي مسواک و هلو لپاره و تل دا هم اعتکاف فاسده وي مګر که او دس ورسره و بیا نه فاسدیږي .

۳- شرعي یا طبیعي حاجت یې تر سره کړی بیا هم معتکف ځنډ وکړی فورا مسجد ته رانه غلی هم یې اعتکاف فاسد دی. ٤- د روژې د میاشتې اعتکاف که چا فاسد کړی فقط به د هغې ورځې قضاء را وړي کومه ورځ چې ده فاسده کړې ده د ټوله اعتکاف قضاء نه ده لازمه په ده باندې، البته تر فساد وروسته یې اعتکاف نفلي و ګرځېدی سنت نه سو.